SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
پنځم کال بوولسمه گڼه پرله پسي (۲۹۸) چهار شنبه د ۱۴۲۰ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام (۳) د ۱۳۷۸ هـ ش کال د سلواغي (۲۰) د ۲۰۰۰ میلادي کال دفبروری (۹)

محترم معاون رئیس الوزرأ طي ملاقاتي با عده یي از علماء :

علماء بمثابهء چراغهای روشن در جامعه بوده

امارت اسلامی افغانستان بر مبنای فتاوای شرعیه شان بمیان امده است

محترم مولوي عبدالكبير معاون رئيس الوزرأ امارت اسلامي افغانستان قبل از ظهر ديروز در دفتر كارشان محترم مولوي محمد صادقي عضو شوراي علماي ولايت سمنگان را غرض ملاقات به حضور پذيرفت .

دفتر مطبوعاتي رياست الوزرأ به آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: طي اين ملاقات نخست محترم مولوي محمد صادقي به نماينده گي از شوراي علماي ولايت سمنگان گزارشي را پيرامون اجراآت و فعاليت هاي كاري شوراي متذكره ارائه نموده گفت: كه ميان علماو مردم آنولايت

همكاري متقابل وجود دارد و علماي آنولايت رسالت و مكلفيت هاي خويشرا مبني بر همكاري مردم با امارت اسلامي به وجه احسن پيش ميبرند و هرآن آماده اند تا مطابق هدايات امارت اسلامي وظايف شانرا بيشتر از پيش دنبال نمايند.

ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

مدرسه منبع الجهاد ولایت پکتیکا افتتاح گردید

مدرسه منبع الجهاد ولايت پكتيكا كه تعمير آن در شرنه مركز آنولايت اخيراً اعمار گرديده است افتتاح و مورد استفاده طالب العلمان قرار گرفت .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر شرنه خبر داد :

مدرسه منبع الجهاد ولايت پكتيكا كه ساختمان اين مدرسه مركزي بالأثر توجه مقام ولايت و تلاش هاي منسوبين مربوط اخيراً به شكل پخته و اساسي با در نظر داشت همه ملحقات ضروري آن اعمار گرديده است امروز طي اجتماعي توسط محترم ملا عبدالروف عارف والي پكتيكا افتتاح گرديد در اجتماع متذكره محترم مولوي عبدالمنان محترم

ص ٤

د بهرنیو چارو وزارت ویندوی د یوې څرگندونې په ترځ کي :

د الوتكي تښتوني پېښه

یو تروریستی عمل بولو

او بیا یې هم غندو

له تروریستانو سره هیڅکله خبري او مفاهمه نه کوو

نړیواله ټولنه باید ددغه څرگند تروریستي عمل په اړوند چوپه خوله پاتي نه شي

د اريانا افغان هوايي شركت د بوئينگ الوتكي د تښتوني په باب د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنيو چارو

وزارت د ويندوي څرگندوني كابل افغانستان د ۱۴۲۰ هجري قمري كال ذالقعدة الحرام د مياشتي دويمه نيټه

د اريانا افغان هوايي شركت د الوتكي تښتونكي د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفينو د افرادو له جملي څخه دي. او د

افغانستان اسلامي امارت دغه تروريستي او غير انساني عمل په كلكه غندي او تروريزم مردود بولي. او د

همدي اصل له مخي هيڅكله له تروريستانو سره خبري نه كوي. څكه له هغوي سره خبري او مفاهمه او

٤ مخ

مقاومت مبارزین چیچن هنوز درهم شکسته نشده است

رهبران روسيه با وجود اشغال گروزني پايتخت چيچين از طرف اردوي آنكشور به اين تصور نيستند كه جنگ در ناحيه ققفاز به زودي به پايان خواهد رسيد.

ولاديمير پوتين كفيل رئيس جمهوري روسيه اعتراف كرد كه مقاومت مبارزين چيچين هنوز در هم شكسته نشده است .

در اين حال كميشنري اتحاديه اروپا در امور عمراني در روز گذشته در جمهوري انگوشيا در مورد وضع مهاجرين چيچيني در جمهوري انگوشيا اطلاعاتي بدست آورد ولي روسيه را متهم كرد كه از رسيدن كمك هاي انساني به مهاجرين چيچيني كه در وضع خرابي قرار دارند جلوگيري ميكند.

بخش اکسریز ولابراتوار شفاخانه استخبارات فعال گردید

بخش اكسريز ولابراتوار شفاخانه استخبارات اخيراً فعاليت و آماده خدمات صحي گرديد. آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد.

با الاثر توجه مقام رياست عمومي استخبارات و سعي و تلاش پرسونل صحي بخش اكسريز ولابراتوار شفاخانه استخبارات كه قبلاً غير فعال بود دوباره قابل استفاده قرار گرفته و همچنان يكتعداد ماشين آلات وساير وسايل مورد ضرورت بخش عمليات خانه با استفاده امكانات موجود فعال و آماده خدمات صحي گرديده است .

کلینیك صحي ورکشاپ تخنیکي وزارت دفاع ملي افتتاح گردید

كلينيك صحي وركشاپ تخنيكي وزارت دفاع ملي جديداً اعمار و افتتاح گرديد. آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد:

در محفليكه بهمين مناسبت به اشتراك مسؤولين و منسوبين وركشاپ تخنيكي وزارت دفاع ص ٤

مجاهدین کشمیري چهار صد تن از نظامیان هندي را دستگیر نمودند

سرينگر : مجاهدين كشميري دره سانگله را كه در حوالي شهر سرنگوت كشمير موقعيت دارد فتح نموده و ٤٠٠ تن از نظاميان هندي را در اين منطقه زنده دستگير نموده اند با نشر خبر اين واقعه حكام عاليرتبه نظامي هندي در اطراف دره مذكور قوت هاي نظامي شان را جابه جا نموده و با استفاده از هليكوپتر هاي توپدار مجاهدين را زير حمله گرفته اند نظاميان هندي از طريق لودسپيكر ها متواتراً به مجاهدين اخطار ميدهند تا افراد دستگير شده را رها سازند . در غير آن از اسلحه كيمياوي بر خلاف شان استفاده خواهد شد در حمله متذكره مجاهدين كشميري كه توسط

قطعه ۳۱۳ تنظيم جهاد اسلامي و فدا كاران حركت المجاهدين انجام پذيرفته ۳۷ تن از عساكر هندي كشته و ده ها تن مجروح گرديده اند در نتيجه اين عمليات پيروز منداته دره سانگله كاملاً بدست مجاهدين فتح گرديده است همچنان در اين عمليات ٤٠٠ تن از نظاميان هندي توسط مجاهدين زنده دستگير گرديده اند وضع در منطقه خيلي وخيم بوده و حكام غاصب هندي قطعات متعدد نظامي را غرض رهايي عساكر شان به منطقه سوق داده اند از جانب ديگر صد ها تن مجاهد سر بكف كشميري نيز از مناطق دور و نزديك خود را به حوالي دره سانگله رسانيده تا از برادران مجاهد شان در برابر حملات عساكر هندي دفاع نمايند.

د امریکي د کانگرس غړي :

هندوستان دي د دهشت اچونکي هیواد په توگه وپېژندل شي

واشنگټن : د ان آي خبري آژانس په حواله د امريكي د كانگرس دوو تنو مهمو غړو د كانگرس په غونډه كي د هندوستان د پراختيا غوښتونكي حكوت له تيري كوونكو سياستونو څخه پرده پورته كړي او غوښتنه

يې كړي چي په فوري توگه دي هندوستان د يوه دهشت اچوونكي هيواد په توگه وپېژندل شي. نوموړو پر عيسايانو ، مسلمانانو او نورو هندي لږ كيو باندي د هندوستان د حكومت پر له پسي تيري او

ظلمونه غندلي او په دي هكله يې خپل سخت تشويش او خپگان حرگند كړي دي له نيويارك څخه د كانگرس تاكل شوي غړي ايدولنس تاونز د خبرو په ترځ كي ويلي چي اوس هغه وخت را

٤ مخ

وزیر دفاع امریکا از عملیات هوایي ناتو دفاع کرد

ويليم كوهن وزير دفاع ايالات متحده امريكا از عمليات هوايي ناتو عليه صربستان در سال گذشته يك روز بعد از آن دفاع كرد كه يك سازمان حقوق بشر قواي ناتو را متهم كرد كه در دوران عمليات مذكور باعث تلفات زياد افراد ملكي شده است به قرار گزارش سازمان حقوق بشر در

عمليات مذكور قواي ناتو پنجصد تن از افراد ملكي را طي چند حمله به قتل رسانده است .كه اين رقم بيشتر از تعدادي است كه ناتو به آن اعتراف كرده است. ويليم كوهن گفت ناتو در حملات خود عليه اهدافش در يوگوسلاويا از دقت بسيار زياد كار ميگرفت تا تلفات افراد ملكي بسيار ناچيز گردد.

در دوشنبه سه بم منفجر گردید

تاجكستان در حاليكه به انتخابات پارلماني خود نزديك ميشود سه بم در دوشنبه پايتخت آنكشور ديروز منفجر گرديد يكي از سه بم مذكور در نزديك اداره جمع آوري ماليات آنكشور منفجر گرديد كه باعث شكسته شدن شيشه

هاي تعمير مذكور و تعمير هاي همجوار گرديد و دو بم ديگر يكي پي ديگر در دوشنبه منفجر گرديد. تاكنون مسئووليت اين بم گذاري ها را كسي بدوش نگرفته و از تلفات و خسارات ناشي از آن گزارش نشده است .

د عدلیي وزارت ودانی په عصري توگه بیا ترمیم شوه

شريعت : گرانو هيوادوالو ته معلومه ده چي د تيرو فاسدو رژيمونو د بي مفهومه جگړو په نتيجه كي د هيواد او په خاصه توگه د كابل ښار اكثره وداني ويجاړي او په كنډوالو

بدلي شوي چي د هغو په جمله كي د عدليي وزارت وداني د بريښنا اوبو رسولو سيستم، مركز گرمي ، تشنابونه او ځيني د كارخوني هم له منځه تللي او د كار اخيستو جوگه نه

٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

جهانیان باید ا.ا.ا را در مبارزه علیه تروریزم مساعدت نمایند

جهانيان شاهد اند كه ا.ا.ا از بدو تحكيم خويش با پيروي از هدايات نجات بخش اسلام با تمام نيرو بر خلاف دهشت گردي و تروريزم مبارزه نموده و همواره آماده گي خويش را در راه اشتراك با تمام فعاليتهاي بين المللي ضد تروريزم اعلام داشته است بنا بر همين حقيقت چندين بار هدف حملات شديد تروريستي قرار گرفته و مشكلات نهادي را در اين راه متحمل گرديده است اما متأسفانه كه بعضي از كشور هاي ماجرا جو پاليسي مثبت ا.ا.ا در اين راستا را به ديده ترديد نگريسته و اتهامات ناروا بر حاكميت اسلامي كشور بسته اند به سلسله

ص ۲

په کندهار کی د تیلو د یوی ستری ذخیری د ودانولو کار روان دی

شريعت : د نفت او گاز د لوی رياست د فعاليتونو او هڅو په هكله د قدرمنو مينه والو د معلوماتو په خاطر زموږ خبريال د نوموړي رياست له مسؤل محترم ملا عبدالغني منقاد سره يوه لنډه مصاحبه كړي چي ستاسي حضورته يې وراندي كوو .

محترم ملا عبدالغني منقاد لومړی د

خپلو اداری چارو په هكله وويل : زموږ هغه نماينده گي چي د تيرو جگړو له كبله له كار څخه لويدلي وې بيا فعالي شوی او په ځينو نورو ولايتونو كي مو نوی نماينده گي هم جوړي كړيدي نوموړي زياته كړه د نفتو د رانيولو هر تاجر ته اجازه وركړی شويده چي د تيلو دواردولو لپاره دوه ټانكرونه ولري حتی

اكثره وخت زموږ عمومي رياست هم د تاجرانو د ټانكرونو په واسطه د كرايي په بدل كي تيل را انتقالوی نوموړی تخنيكي چارو په برخه كي وويل د نفتي موادو د لوی رياست ټول هغه پمپونه چي د تيرو جگړو له كبله د استفادی څخه لويدلي وو دوباره موفعال كړي دی همدا

٤ مخ

د چیچن پخوانی ولس مشر :

زما نوم «سلیم خان اندربایوف» نه ، «زیلم خان اندرابی» دی

نوای وقت : د چيچن پخواني ولس مشر او د نوموړی هيواد د جمهور رئيس خاص استاځي چي تر اوسه مطبوعاتو سليم خان اندربايوف باله ويلي دي چي دده نوم سليم خان اندربايوف نه، بلكه زيلم خان اندرابي دی نوموړی تيره ورځ په پيښور كي د يوی جلسي په ترځ كي وويل چي زما نوم زيلم خان اندرابي دی او د دله ايزو خپرونو په وسيله له ټولو كاركوونكو څخه غواړم چي ٤ مخ

یک انفجار قوي شرق دور روسیه را تکان داد

يك انفجار قوي ديروز در شهري واقع در شرق دور روسيه رخ داد . در اثر انفجار مذكور يك اپارتمان پنج طبقه يي بكلي ويران گرديد.

مقامات روسي علت انفجار را نشتگاز دانسته اند ولي احتمال يك عمل خرابكاري را نكرده اند.

مقامات یوگوسلاویا ترور وزیر دفاع آنکشور را محکوم کردند

مقامات يوگوسلاويا ترور وزير دفاع آنكشور را محكوم كردند كه ديروز توسط افراد نا شناسي در يك رستوران صورت گرفت مقامات يوگوسلاويا طي يك جلسه اضطراري قتل وزير دفاع آنكشور را يك اقدام تروريستي خوانده و آنرا جدا محكوم كردند تا حال مسئووليت اين قتل مذكور را كسي بدوش نگرفته است عده يي قتل وزير دفاع را بدوش مخالفين

سلوبودان مليوسو ويچ در مونتينگرو مي اندازند در حاليكه عده، ديگر البانيائي نژاد ها را متهم در قتل مذكور ميكنند مقامات يوگوسلاويا گفته اند تدابيري را اتخاذ مينمايند تا از موج خرابكاري ها و قانون شكني ها كه در آنكشور رو به افزايش است جلوگيري گردد.

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مــرستیــال : غلام محمد «فاروق»
دیوي گڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤-۳۸٥ / ۷ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

بقیه سرمقاله

حملات ناجوانمردانه تروریستي علیه ا.ا.ا اینك جهانیان شاهد یك عمل خیلي ناجوانمردانه و غیر انساني گماشته گان مخالفین امارت اسلامي بوده و واقف اند که از چند روز بدینسو یك فروند طیاره مسافر بري « د آریانا افغان هوایي شرکت» توسط چند تن دهشت گرد اختطاف گردیده و اکنون هواپیماي مذکور در یکي از میدان هاي هوایي شهر لندن بر زمین نشانده شده است .

با ملاحظه این حادثه ناجوانمردانه مخالفین بین المللي امارت اسلامي اکنون باید متقاعد گردیده باشند که امارت-اسلامي افغانستان واقعاً ——— مخالف تروریزم بوده و در این راه مصائب زیادي را متحمل گردیده و شاید آنها بپذیرند که امارت اسلامي افغانستان یك عضو فعال نهضت ضد دهشت-گردي در جهان بوده و از جانب کشور هاي جهان در این عرصه باید کاملاً مساعدت گردد. طیاره مسافر بري د آریانا افغان ـ هوایي شرکت که فعلاً از جانب تروریستان اختطاف گردیده حامل کودکان شیر خوار، اطفال، زنان، پیر مردان بیمار و مسافرین دیگري بود که از هر حیث بي گناه و قابل احترام پنداشته شده و هیچکس باید روا نمیداشته تا حیات آنها را تهدید نموده و از زندگي اوشان به حیث وسیله کسب مقاصد شوم و تروریستي استفاده بعمل مي آمد حال که عمال مخالفین امارت اسلامي افغانستان به چنین یك عمل شرم آفرین دست زده و میخواهند تا از این طریق چیزي بدست آرند باید متیقن باشند که امارت-اسلامي تصمیم قطعي دارد تا همچو گذشته حال نیز بر خلاف هر اقدام و عمل تروریستي مقاومت سرسختانه نموده و به مخالفان تفهیم نماید تا غرض حصول اهداف غیر انساني شان من بعد به چنین عمل ناجوانمردانه دست نه زنند. اینکه مقامات کشور انگلستان تلاش مي ورزند تا قضیه را از طریق تفاهم حل و فصل نمایند ما آنرا ستایش مي کنیم و آرزو مند هستیم تا آنها بتوانند بدون وقوع کدام حادثه ناگوار راه حلي براي مشکل دریابند اما این نکته را باید مد نظر داشته باشندکه قبول هر نوع شرط با آنـــها باعث جرأت گروه هاي دهشت گرد و تروریست درآینده گـــردیده و ممکن مشکلات عظیمي را به جهانیان در قبال داشته باشد.

امارت اسلامي افغانستان اگر چه در حل تمام مسایل و معضلات به تفاهم و همکاري دو جانبه معتقد است اما در این مورد پیروي اصل مذکور شاید عوض ثواب، گناه پنداشته شود زیرا تهدید حیات انسان هاي معصوم بخاطر کسب امتیاز و یا خوشنودي دیگران جرمي است نابخشودني و مغایر با اساسات اسلامي و ملي ملت مجاهد افغان در تاریخ و عنعنات افغانها مشهود است که در شرایط خیلي دشوار نیز افغانها ظلم بر زنان و اطفال را روا نه پنداشته و بر آنها تجاوز را اجازه نه داده است اما عمل فعلي گماشته گان مخالفین هویت تاریخ و ملي افغانها را لکه دار ساخته و با این حرکت به حیثیت و غیرت ملت با غیرت و مجاهد افغان به دیده حقارت نگریسته شده است در حالیکه افغانهاي غیور کج نگریستن به جانب زنان را اجازه نمیدهد چگونه حاضر خواهد شد تا کسي زنان مربوط این ملت را به شب ها به گروگان گرفته و از آنها به منظور کسب مقاصد استفاده نماید بناً،بنابر احترام عظیمي که ملت مجاهد افغان به همه افردا جامعه خصوصاً به طبقه اناث خود دارد و تروریستان طیاره ربا حتي احترام به زنان افغان را نیز مد نظر نه گرفته اند پس جرم آنها از حد محاسبه بیرون بوده و به هیچ صورت قابل عفو و با تفاهم نمیباشند اینکه در رابطه به حل مسئله طیاره ربوده شده «اندین ایرلاین» امارت اسلامي افغانستان خواهان دریافت راه حل مسالمت آمیز بود و بعضي از منابع خبري اکنون ادعا دارند که چرا اکنون آن اصل از جانب ا.ا.ا تعمیل نمیگردد باید واضح ساخت که ما اکنون نیز حل مسالمت آمیز مسئله را خواهانیم و این به طیاره رباینده گان و حکومت انگلستان ارتباط دارد که تا چد حد میتوانند در زمینه کار نمایند اما تا جاییکه به امارت-اسلامي افغانستان ارتباط دارد چون رباینده گان طیاره گماشته گان مخالفین ا.ا.ا بوده و از جانب دیگر بر علاوه اینکه به عمل غیر انساني دهشت گردي متوسل گردیده اند بر حیثیت و غیرت ملي و دیني افغانها نیز تجاوز نموده اند که عدم احترام آنها به موجودیت زنان و کودکان موجود در هواپیما مبین این عمل غیر اسلامي آنهاست بناً این عمل از جانب ما مردود بوده و با آنها قاطعانه عمل خواهیم کرد و هیچنوع خواهش و یا شرط آنها را نخواهیم شنید این به حکومت انگلستان ارتباط دارد که در پرتو قوانین خویش با آنها چه نوع برخورد مي نماید.

دعلم او عرفان له دښمنی مو تباهی راغله

فـــاروق

وایی چی د همـــدان امیــــر نومیالی عالم ابو علی ابن سینا ته د وزارت دنده وسپارله، خو دا خبره ده په لیکریانو ډیره بده ولگیده، نو پر ډیره بی برغل وکـړ او لوټی لوټی بی کړه، په دی بی لا هم تسل ونه شو او د ابو علی د وژنی گواهی بی وکـړ، خو ځینی دوستـانو بی ملگرتیا وکړه او بچ بی کړ، له دی وروسته به دا غښتلی ساینس پوه او ماهر طبیب د خپل سرد ژغورنی په غم کله یو ځای او کله بل ځای په تیښته او ځغاسته شپی تیرولی ، په ده باندی یو شمـیر تورونه لگیدلی و چی گـویا بی دینه او د آخرت نه منکر دی.

یو بل پوهاند ابن باجـه چی په کـال ۱۰۸۲ م کی بی په اندلس کی ژوند کاو او ابن طفیل او ابن رشد بی له شاگردانو څخه گڼل کیږی، هم د ځینو حلقو له خوا د فکر او خیال د آزادی په تور تهـمـتی شـو، د تمسـخـر او ملنډو لاندی راغی او بالاخره بی زهر خوراک او له دنیا سترگی پټی کړی .

د بغداد خلیفه معتصم بالله هم یو څو داسی وزیران درلودل چی له پوهانو سره بی خورا بدی وه، لکه ابن علقمی چی یو نوموړی پوهاند خواجه نصیر الدین محقق طوسی بی تا گناه تر پنځلســو کلو په تورتم زندان کی اچولی و خـــو د خـدای«ج» کـړه و چی هلاکـوخان راغی ا و دی بی له زندانه راوویست بیا به بی چی کله د هغه وخت کیسی کـولی نو ویل بـه بی چی څه پر مـا تیر شو هغـه له اټکله بهر او له عقله ډیر لری دی.

زموږ تاریخ لـه کـتابونو سره د دښمنی هم یوه کیسه په خپلو پاڼو کی نغښتی او تر موږ را رسولی ده او هغـه د اندلس دخلیفـه مستنصر بالله الحکم دهغه بی ساری کتابتون دسوځولو او ایره ایره کولو پیښه ده چی د المنصـور یوه ناظر « ابن ابی عـامر » بی دسرو لمبو ښـه ننداره وکړه او خپل له کینی ډک زړه بی وریاندی تش کړ ، « ابن ابی عـامر » ویل چی له دغـو ساینسی ، طبیعی او تجرباتی کـتابونو سره همدا سی چوریږی ، دانو په ساتنه ارزی ؟

خلیفـه معتضد بن عبـاد لایوه بله پیښـه وکړه او هغـه دا چی د ابن حزم ټول کـتابونه بی راټول کړل او یو ځایی بی دختـو په یو ډنډ کی وتپل او پاک بی ځان تری خلاص کړ ، خـود هسپانیی علی بن یوسف بن تاشفین د امام غزالی صاحب رنگین کتاب « احیاء العلوم» دډیر وتندار چیـانو په وړاندی پاڼه پاڼه په خـپل لاس وسوځاوْ او ایری بی په هوا خوری کـړی ، دده د دربار څو تنو مفتیانو لایو کـام بـــل هم واخیست او حکم بـی وکـړ چـی دامام غـزالی صاحب تــور کـتابونه هم دهمدی ډول سـو ځلو وړ دی.

دعلم او پوهی دی شان دښمنی ته په کتو سره دلسمی میلادی پیړی په وروستیو کی د « اخوان الصفاء » په نامه دپوهانو او لیکوالو ډله مجبوره شـوه چی پټ په پټـه کـار پیل کـړی ، دوی خپلی ډیری څیړنی او پلټنی سره راټولی او سـمـبال کـړی ، په (٥۱) رسـالو کی دایادښـتـو نه زیاتره په طبیـعی علومـو پوری مربوط اولکه داتلسمی پیړی فرانسوی انسـانکلو پیـډیا او دائرة المـعارف کچـه بی درلوده ، خو بیا یوه داسی ورځ راغله چی په ړده ړنا ورځ د بغداد په کوڅـو کی داټولی پاڼی په تورلـو گی بدلی شوی .

لـه بده مـرغــه داسـلامی امت دغـورځیدو او پریوتلو یو مـهم لامل همـدا دی چی تل دځینو واکـمنو او نفـوذ خاوندانو لـه خـوا تجـرباتی او طبیعی علومـو سره بد چلند شوی ، او دا ډول پوهان بی له دینه بهـر گـڼلی دی ، دعلومـو دغـه ناسم ویش چی څه بی دینی او څه بی دنیوی علوم بللی او لایو دبل مـخـالف گـڼل شـوی ، خو رامنفی ذهنیت دی ، اوله همدی وجهی مسلمانان په دی نه دی وسی شوی چی له دغو علومـو څخـه په ښه ډول گټه واخلی ، تجـربی وکړی او په طـبیعت کی دالله تعالی د قدر تونو حکمـتونه او اسرار ولټوی.

پـه داسی حـــال کی چی لویدیځ دنوی څیړنی ، تجربو او پلټنو په بی ساری ســمندر کی غـوټی وهلی او دخپل عقل نه بی دطبیعت او ژوندانه په بیـلا بیلو اړخونو کی پـه وروستی اندازه کـار واخیست ، مـسلمانانو د خپل مغز او دماغ څخه یوازی دحفظ ډبی جــوړ کــړ ، دمـتـنونـو پـه ځای حاشیی او دحاشیو پر ځای نکتی تر بحث اولوســتـنی لاندی راغلی او د تحقیق او څیړنی ځای خالص جمود او وچ تقلیـد ونیـو ، چی بیـا دهمـدی وروستـه پاتی والی نجـاتی او اغیـزی دمسلمانانو دسیـاسی او اقتصادی اسارت او غلامی په شکل کی را ځرگندی شوی او دادی دسر په سترگو بی وینو.

چگونگی استیلای نظام قبیله سالاری

راز محمد ویش

پیوسته به گذشته

اما نظر مؤلف را میتوان در زمینه حاکي عقیده شخصي وي مبني بر تعصب لسـاني و مـذهبي دانست زیرا تنازعـات جدالها و اختلافات بخاطر قدرت و منافع اقتصادي میشود بمراتب از جنگ قبیلوي متداولتر باشد چه اقوام و قبایل میشود سرانجام بین هم توافق کرد ، اما گروه ها و دسته ها هرگز نتوان دست بآشتي زد و افزار جنگ را بدور افگند.

بطور مثال داؤد خان در دورش نام هاي قـومي و قـبیلوي را تحـریم کـرد معهـذا اختلافات قومي همچنان دوام داشت چنانچه با گذشت دور داؤد خان و فرارسي عهد رژیم هاي یکي بعد دگر کمونستي موضوع اقوام و قبایل باري مورد توجه قرار گرفت اما این توجه نه بآن معني که در آن حرمت و حق مـردم رعـایت شده باشـد، بلکه بخـاطر دو-دستگي، نفـاق ، شقـاق و کـمـزوري بنیـان اتحاد اجتماعي و بهم انداختن یکي به یخن دگـر. امـا وقـتي کـمـونسـتـهـا و بقـایایش بسـاطش را از کـشـور بر چیـد و امـراي تنظیمي بجایش برنشـستند در دور ها سال و اند، مدتیکه در میهن زمام قدرت بدوش داشتند جز خویشتن خواهي هواي قدرت شخـصي، زورگویي، تنازع و جدل در سر نداشتند قوم قبایل، آرمان دو ملیون شهید گلگون کفن وطن را پشت پا زده بر هست و بود ملي تا توانستند چاپیده رفتند.

تا اینکه رخنه نفـاق و خـود خـواهي میان امراي تنظیمي باعث نفرت مجاهدین، مجاهدینکه براي حاکمیت دین الهي و نفاذ شریعت محمدي (ص) در کشور جهاد کرده گشت و از آنان فاصله گرفته آنان را گذاشتند چوبالون لاسـتیـکي در فـشـار نفـاقـه و تنهایي از شدت تعصب از هم کفید.

مـجـاهدین منزوي منتظر فـرصت ایجـاد سپاه اسلام آن تحریك طلبه اسلامي را در میهن فال نیك نیل بآرزوي هدف جهـاد دانسـته جوقه جوقـه بآن پیوسـتند و به تأسـیس نظام ابد آل اسلامي موسوم به امارت اسلامي پرداختند.

مؤلف در صفحه ٤٥ و ٤٧ کتابش بارتباط نظام قـبیلوي ناشي افـول سـتـاره علم و فـرهنگ کشور رطب و یا بس فراواني دارد از جمله امیر-دوسـت محمد خان را مرد خشك متحجر ، پوچ و بي مغز و دور از فرهنگ دانسته مینویسد : در عـهـد رژیم منحـوس آل یحي « نادر» ظاهر، داؤد » سرمایه فرهنگي ما حیف و به یغما رفت و کتب سرمایه علمي ما ـــ

ـ به آتش کـشـیـده شـد بالاتر از همـه براي درخـشـش فـرهنگ اکـثـریت قـاطع ما در جراید، رادیو، و پوهنتـون مـجـال عـمل ندادند هر چند میـشـد همـچـو اتهـامـات یا درد دل را بصـورت مسـالمت آمیز نیـز اظهـار داشت و نوشت،اما چطور؟ ممکن باید بر تعصب لساني و مذهبي با نیـشـه قـدرت و فـرصت مناسب « کـار ملیـان ملحـد » یانگذاشت او را از شـدت زورش باز داشت ؟! بهر صورت علت اصلي عقب مـاني فـرهنگي عـمـومي را مـیـتـوان تنگ نظري و مـداخـلات همـسـایگان کـشـور دانسـت نه نظام قبیلوي. تاریخ گواه باشد که سدوزائیها و محمد-زائي ها از فـرط مـداخله روس و انگلیس حـتي ایران دمي براحت نه نشـسـت و نفـسـي براحت نکشـیـد زیرا ایران بایست همـواره در تبـاني با روسیـه اسباب مزاحمت افغانها را فراهم ساخت و هند آنروز و امـروز را مـرکـز یا تخـتـه خـیـز انگلیس بر افغانها دانست.

مؤلف که حتي به صحت حرف خودش اعـتـمـاد کـامل ندارد نتـوانسـتـه از کـتـیـبکه مدعـیـست بآتش کـشـیـده شده نام برو تا در صدد سراغ شد و معلوم کرد کدام کتاب، در کجا از طرف چه کـسي بحریق کشیده ، شده باشـد ؟ کـذا درست نمـیـتـوان دانست زیر پا گذاشته شدن حق مسلم فرهنگي ملیت داراي اکثریت قاطع کشور اینجا بکدام دلیل در خور تذکر باشد ؟ در حالیکه ثبوت اکثریت قاطع ملیتها را در کشوري چون افغانستان جزء داؤة المعارف و با اخبار علما،معتبر و نامدار نمیتوان ارائه کرد.

مؤلف در صفحه ۲۸ کتابش تحت عنوان نظام قبیلوي در ارتباط بغایله و شورش هزاره-جات در عهد عـبدالرحمن و سر کوبي آنان با ذکر ظهور گروه درویشان داراي عقیده آبدیت روح و وحـدة الوجـود و تبلیغ بیـدریغش بین اهالي کشور نگار شاني دارد مؤلف که ظهور گروه درویشان را اسـتـخـفـافـاً نتیـجـه نظام قبیلوي میداند میتوان از آن استنباط کرد او مـخـالف این عـقـیـده باشـد پس ادعـاء او و کارملیان هوا خواه و مؤید تالیفش در احترام بر اساسات دین مبین اسلام چه مفهوم دارد ؟

مـؤلف نامبـرده کـه کـتـابش را سـراپـا باصطلاح از (ا-ي) بر مبـنـاي نادرست خواست و شیوه الحادي مخالف خلقت حضرت آدم « ع » و مـخـالفت صـریح کریمـه آیه و «اذ-قال ربك للملائکه اني جاعل ... روي نظر دارد» ـ آن معـتـقـد پیدایش خود بخودي عـالم و تکوین کـائنات و مـا فـیـهـا تدوین کرده و بر-رستاخیز، عاقبت و عقوبت باور ندارد مزدوري رژیم کـارملي بر مـسـند قـدرت را مفت خـود براي بر آوردن این هدف نا مـــقـــدس دیده خواست بیك تیر دو فاخته « دین - کلتور» افغاني را که از حیث مزیت و اسـتحـسـان در غـالب مـوارد مـمـاثل هم باشـد آمـاج آرزوي پلیدش قرار داد. او و همکاران الحادي رژیم وقت بخـاطر نیل بهدف نا مقـدس بمـهـارت خـاصي اصطلاحاتي مـشـخص کـردند کـه از جـمله یکي کلمـه با اصطلاح نظام قـبـیـله سالاري پدر سالاري ، مادر سالاري و ... باشد تشخیص همچو اصطلاحات تهدیدي براي رد اصـالت خـانواده، عـایله ، قـبـیله قـبایل نظام اجتماعي و سایر ارزشهاي اینگونه بي بوده که مخالف با مفاد آیه مبارکه«و قضي ربك الا تعبدوا الا ایاه ... میباشد. ملحدین اصلاً بر اسـاس خـانواده و عـشـیـره ، قـبـیله و قـبـایل اعتقاد نداشته آنرا زاده مذهب و دین دانسته طریقت و شریعت را پرده و سقف جزئیات این راه و رسم میدانند و معتقد اند تا آشتي و سازش امتزاج و هم درستگي با پیوند الفت و محبت بین خانواده و قـبیله دین و مـذهب از طریق گرامیداشت میان «ولد و والد» بنام حقوق والدین بر عقائد انسانها حاکم باشد نمیتوان گامي بسوي مدنیت تازه انسان نوین گذاشت ازین روهرچه زود تر ضـربه بدي « زوج - مرد و زن » کـه اساس عـایله و سلسله جنبـان مـذهب و کلتـور باشـد زد و در وسط هدف پیمایي سد شد، و باینصورت روحیه اتحاد، همدمي ، برادري و تعاون و تساند را که بفحواي مبارك حدیث : لیس لعربي علي عجمي فضل و لا ... و بتأسي ارشاد این مبارك آیه و اعتـصـمـوا بحبل الله ... بین مسلمین مستحکم باشد بهم زد و ارزشهاي دیانت اسلام وحدانیت واقعیت ، عاقبت و آخرت را به یاد فراموشي سپرد. پایان

چیچنیایی مجاهدینو ته ډالی

الحاج درمحمد «گوهری»

ای چیچنیایی ورونو!
خدای مو پښتی وان شه
ښکلو غیرتی ورونو!
خدای مو نګهبان شه

ستر ازمېښتونه دی　　ستری حوصلې غواړی
ټینګ ورته ځانونه کړی　　کلکې ارادې غواړی
دا د حق باطل جګړه　　پاکې عقیدې غواړی
ځی چې د ایمان په زور　　داسې پرګنې غواړی

ای چیچنیایی ورونو!
خدای مو پښتی وان شه
ښکلو غیرتی ورونو!
خدای مو نګهبان شه

زار شم سپېڅلی شمه　　ستاسو جهادونو نه
و شړی وحشی خرسان　　له خپلو ملکونو نه
رنګ اخلی محکوم ولس　　ستاسو له رزمونو نه
امام شامل بچو!　　پاڅی له خوبونو نه

ای چیچنیایی ورونو!
خدای مو پښتی وان شه
ښکلو غیرتی ورونو!
خدای مو نګهبان شه

ستاسو په حریم باندې　　څوک چې تعرضونه کړی
ماتې بې پښې کړی چې　　داسې تکلونه کړی
وینم دنیاوال مو له　　لرې نه سېلونه کړی
ستاسو د ایمان د زور　　نوروته تکلونه کړی

ای چیچنیایی ورونو!
خدای مو پښتی وان شه
ښکلو غیرتی ورونو!
خدای مو نګهبان شه

پورته کړی د حق ناره　　لور مو تکبیرونه کړی
ویښه کړی ویده دنیا　　پورته ولسونه کړی
ویښی به مو رنګ راوړی　　خدای ته امیدونه کړی
وایی ګوهری چی لوی　　خدای له عرضونه کړی

علامات منافق

جهید

در حدیث مبارك در باب نفاق چنین آمده است :

پیامبر برگزیده، اسلام علیه الصلوة والسلام فرموده اند : نشانه ي منافق سه است :وقتیکه سخن گوید دروغ گوید. هرگاه وعده کند خلاف نماید. هنگامیکه امین قرار داده شود خیانت کند. و در روایتي آمده است هرگاه با کسي خصومت کند دشنام زند.

طوریکه از فحواي حدیث متبرکه فوق بر مي آید هر مؤمن و مسلمان مکلف است تا از همچو خصایل و صفات ذمیمه که شاخص منافق است خود را نگهدارد و کلیه اقوال افعال و عملکرد هاي خود را مطابق اصول و موازین شرعي عیار سازد. و از علایم نفاق و خواص منافقین جداً دوري گزیند. سخنان شایسته و بي آلایش از دروغ و غیبت و نمامت و اراجیف باشد و سخن راست، محکم و صائب و خیر گوید ورنه سکوت بهتر است.

با تمام میعاد ها، پیمان ها و وعده هاي خود با دیگران وفا نماید و هیچگاه مخالف وعده کار نکند در مال و اشیاي امانت هر چه باشد خیانت نورزد و در موقع جدال و تخاصم از گفتن کلمات رکیك و ناسزا و دشنام جداً خود داري نماید.

در حدیث که به نشانه هاي نفاق اشاره گردیده است مراد منافق عملي بوده یعني صفت منافق در عمل همچو اوصاف را دارد که ارتکاب این خصلت ها بصورت متداوم موجب هلاکت شخص گردیده و در ردیف منافقین قرار میگیرد و کسي که این خصلت ها در او باشد منافق خالص است و در هر کسیکه علامه یي ازین خصلت ها باشد در او یك علامه یي نفاق موجود میباشد و مسلمانان باید از همچو افعال و عملکرد هاي فتنه انگیز و مفضي به نفاق خود داري نمایند و تا خداي نخواسته در صف منافقین عملي قرار نگیرند و از خداوند «ج» پناه مي جوییم از منافقت اعم از عملي و اعتقادي.

خیر خواهی

دین نصیحت و خیر خواهي است، مادامیکه اصل تواصي بحق و تناصح در امور سرنوشت افراد اجتماع شرعاً رعایت گردد آن جامعه بسوي فلاح صلاح و سعادت و هدایت رهبري مي گردد زیرا ساختار جامعه توسط افراد مؤمن، متعهد و صالح ، عمران مادي و معنوي مي یابد.

از حضرت تمیم داري «رض» روایت است که پیغمبر خدا (جل جلاله) حضرت محمد مصطفی «ص» فرموده اند : دین نصیحت و خیرخواهي است ما گفتیم : براي چه کسي ؟ او صلي الله تعالي علیه وسلم فرمودند: براي خدا جل جلاله و کتابش و رسولش «ص» و امرا و رهبران مسلمانان و عموم ایشان بروایت مسلم).

هرگاه امت مسلمه مطابق ارشادات الهي «ج» و هدایات گرامي رهبر عالم بشریت زندگي خود را عیار سازند در عالم اسلام کدام مشکلي نمي ماند که به سهولت حل و فصل نگردد. «زندگي آمد براي بندگي؛ زندگي بي بندگي شرمندگي» دعوت بسوي خداوند یکتا و بي همتا و اشاعه توحید، فراخواني به بزرگترین دستاویز قوي قرآن مجید و فرقان حمید که آیین و برنامه زندگي است نشر و پخش سنن هدایت و احیاء و انفاذ شریعت مطهره، رسول اکرم «ص» و مسؤولین امور و رهبران مسلمین را بحق نصیحت و اندرز دادن و مشوره هاي شرعي و فقهي دادن و در نهایت به همه مسلمانان نیت خیرخواهي را داشتن و در عمل ایشان را به راه صواب و مرضات ذات حق سبحانه و تعالي فراخواندن اثر مرتبه، حدیث مبارکه، فوق است که با پیمت در زندگي دعوت آنرا عملاً به منصه اجرا، گذاریم.

صفحه اختصاصی

معارف اسلامي

ځنګه ژوند وکړو؟

ښادمن

کوم شی چی دانسان او حیوان توپیر پری کیدای شی ، هغه څه چی انسان ته شرف وربښی ، هغه ړنا چی انسان ته دعقل قوه زیاته وی هغه پوائی او پوائی علم دی.

تر کومه ځایه چی دعلم او هنر اهمیت دی په دی هکله ویلی شو چی دواړه ډېر اهمیت درلودونکی دی خو بی له علم نه هنر هیڅ دی او نه علم په پوائی ځان ډېر څه لاس ته راوړای شی.

نن سبا چی نړی ډېر مختیا په لور ګامونه اخلی د هر انسان هیلی بی ډیری لوړی کړی دی. ټول هلی ځلی کوی چی داسی هنر ته لاس ورکړی چی دهغه په مرسته ډېری شتمنی څښتن شی .

دا رښتیا ده چی دهنر په ملتیا انسان ډېر و شتو څښتن کیدای شی خو په ټولنه کی دهغه عزت او تلپاتی نوم څښتن هیڅکله نشی کیدای لکه څومره چی پوانسان دعلم په قوت او مرسته کیدای شی . دلته لازمه ګڼل کیږی چی انسان لومړی علم ته توجه وکړی بیا دعلم په ملتیا هنر خپل کړی . اوس چی نړیوالی ټولنی په رنګا رنګ بدبختیو اخته دی په دی وخت کی هر مسلمان ته لازمه ده چی لومړی دخپلی عقیدی او دین په هکله پوره معلومات تر لاسه کړی وروسته په نورو علومو او هنرونو ځان ستړی کړی.

نوری خبری می په زړه پاتی دی

امیر المؤمنین او د پوستکی جامی

محمود الحسن

راځی چی دا ځل د امیر المؤمنین ابو بکر صدیق «رض» هغو ستونزو ته ځیر شو چی د اسلام او د امام الانبیاء په مینه کی یی په ځان منلی دی.

حضرت ابو بکر الصدیق«رض» د اسلام لومړی خلیفه هغه شخص دی چی د اسلام او اعلاء کلمة الله په خاطر یی خپله ټوله شتمنی په هغه وخت کی چی امام الانبیاء «ص» وویل :

د جهاد او مجاهدینو لپاره مرسته وکړی ، لنډه دا چی هر څوک لاړل دخپل توان سره سم یی څه میدان ته را وړل نبی کریم «ص» پوښتنه وکړه فلانیه تا څه راوړل فلانیه تا څه راوړل ؟ هر چا له خپل وس سره سم راوړی شی وجود کله چی حضرت عمر «رض» ته د پوښتنی نوبت ورسید نو حضرت عمر «رض» وویل چی د کور نیم سامان می راوړی بیا نبی کریم «ص» له حضرت ابو بکر الصدیق «رض» څخه پوښتنه وکړه چی تا څه راوړی دی ؟ حضرت صدیق «رض» ځواب ورکړ چی ما د کور ټول اسباب راوړی دی سید المرسلین ورته وویل نو په کور کی دی څه پریښودل ؟ ابوبکر صدیق «رض» ورته وویل د خدای او د رسول مینه :

جلیل القدر صحابی او د نبی علیه السلام د غار ثور ملګری څو ورځی اصحابو په مجلس کی ونه لیدل شو الهی معشوقه حضرت محمد «ص» یی پوښتنه کوی چی ابوبکر صدیق «رض» نه لیدل کیږی هیڅا ته معلومه نه وه چی صدیق «رض» چیرته دی بیا نو نبی کریم «ص» یوه صحابی ته وویل چی لاړ شه د ابو بکر الصدیق کور ته او معلومات یی راوړه چی څه پیښه ده چی ابوبکر صدیق «رض» نه لیدل کیږی ؟

د لارښوونی سره سم هغه اصحابی د ابو بکر الصدیق «رض» کور ته د پوښتنی لپاره روان شو او د کور دروازه یی ور وټکوله له کوره غږ کیږی چی څوک یاست صحابی ورته وایی چی زه یم نبی کریم «ص» را لیږلی یم تر څو د ابو بکر الصدیق «رض» معلومات واخلم بیا ورته له کوره غږ وشو چی حضرت کاینات «ص» ته د ابوبکر سلام کوه او ورته ووایه چی ای د خدای حبیبه ! ستا د غار ثور ملګری ابوبکر په کور کی بندی دی .

صحابی ورته وایی ای صدیقه «رض» ولی په کور کی ناست یی سید الانبیاء په حرم شریف کی ستا انتظار کوی.

ابوبکر صدیق «رض» په ځواب کی وویل ځما د زړه سر او د اسلام بلی ډیوی ته ووایه چی ای ځما د سترګو توره په کور کی بندی ناست یم دومره څه نشته چی خپل عورت پری پټ کړم اودباندی ووزم.

صحابی چی دا خبره واوریده په منډه منډه حرم شریف ته راغی او د ابوبکر صدیق «رض» پیغام یی امام الانبیاء ته ورساوه کله چی صحابی راغی او د نبی کریم «ص» په مخ کی کیناست وی ویل : ابو بکر صدیق (رض) سلام وایه او ویل یی چی ای د خدای«ج» رسوله د نیستی له امله دومره څه نشته چی خپل عورت پری پټ کړم. رسول الله «ص» ددی خبری په اوریدلو سره په ژړا شو او له ځایه پاڅید روان شو تر څو د حضرت صدیق «رض» لپاره یو څه پیدا کړی د دواړو جهانونو سردار د یو صحابی کور ته وردید آوازیی وکړ :څه لری چی رایی کړی چی ابوبکر ته یی یوسم ؟ چی د هغو لڅوا ورته د نیستی ځواب ور کړل شو همدا شان رسول الله «ص» د ډیرو اصحابو کرامو په کورو نوکی د ابوبکر صدیق «رض» لپاره د لباس غوښتنه وکړه خو څه پیدا نشول بالاخره حضرت «ص» د خپلو بیبیانو کوروته راغی چی هلته هم څه پیدا نشول په پای کی د بی بی فاطمی «رض» کور ته راغی او ورته یی وویل ای لوری ستا د پلار هغه ملګری ابوبکرالصدیق نن د ستر له امله په کور کی بندی دی چی ستا په پلار یی پنځوس زره درهمه په پټه او پنځوس زره درهمه په ښکاره لګولی نو که څه لری راین کړه چی صدیق ته یی ورولیږم او خپل عورت پری پټ کړی بی بی فاطمی «رض» ورته وویل چی پلار جانه مونږه په کور کی یو د اوښ پوستکی لرو یا یوه زړه شړی (دا دوه قوله دی) چی کله زه او حضرت علی «رض» ویده کیږو نو پر هغه مونږ خپل مونځونه کوو او کله پری خوب کوو او کله بیا اوښ ته پری واښه اچوو نور هیڅ نلرو امام الانبیاء (رض) ورته وویل لورجانی همدغه راکړه چی ابوبکر صدیق ته یی ور ولیږم او د کور له بند نه یی را خلاص کړم.

بیایی هغه د اوښ پوست . او یا زړه شړی ابوبکر صدیق (رض) ته وروليږله کله چی یو پوستکی یا شړی ابوبکر ته وررسیده نو له ځان نه یی د لنګ پر ځای را تاو کړ هغه هم دومره وه چی پری نه پټیده او تری ښکته ښوریده بیایی په کی ازغی وټومبل تر څو لنګ پری کلک شو صدیق چی کله لنګ وتاړه نو لوڅ سر او لوڅی پښی حرم شریف ته راغی . حضرت ابوبکر صدیق (رض) د رسول الله «ص» دیدن ته راغی

حضرت صدیق د خپل محبوب په مخ کی ودرید نو سمدستی حضرت جبرئیل «ع» هم د خدای د رسول په مخکی لوڅ سر او لوڅی پښی د ابوبکر په څیر لنګ وهلی چی ازغی په کی ټومبل شوی ودریده رسول الله «ص» تری پوښتنه وکړه .

ای جبرئیله «ع» ځما په ټول ژوند کی په داسی لباس کی راغلی نه وی دا نن څنګه په دغه لباس کی راغلی یی حضرت جبرئیل «ع» وویل ای د خدای«ج» رسوله ! الله «ج» په تا سلام کاوه او ویل یی ابوبکر ته زما سلام ورسوه او ورته ووایه چی ای صدیقه څه غواړی ؟

رسول الله «ص» ابوبکر ته وویل ای صدیقه الله درته سلام رالیږلی او ویلی یی دی چی صدیق څه غواړی ؟ ابوبکر الصدیق (رض) وایی له دی حال څخه ښه حال نه غواړم چی خالق . را څخه خوښ وی : جبرئیل «ع» وویل ای د خدای رسوله ! الله «ج» ویلی چی زما د ابوبکر لنګ ډېر خوښ شوی دی نو ټولو پرښتو ته یی امر کړی چی د ابوبکر په څیر لباس واغوندی او نن په ټولو اسمانو نوکی آن تر عرشه پوری د ملائکو لباس د ابوبکر په څیر دی .

همدا راز د جلیل القدر صحابی مصعب «رض» بن عمیر ژوند ته ګورو چی له اسلام څخه وراندی وو . مصعب «رض» چی لا مسلمان شوی نه و پلار او مور به ډېر نازاوه او تل به یی خوشحاله ساته او د وریښمو جامی یی ورته کولی.

خو کله چی په اسلام مشرف شو بیایی نو د وریښمو جامی پریښودی او ملنګی یی غوره کړه .

یو ځل مصعب «رض» روان وو چی د نبی کریم «ص» مبارکی سترګی پری ولګیدلی ګوری چی د مصعب بن عمیر «رض» جامو ته د څرمنی پیوند ښودل شوی دی نبی کریم «ص» ورته ډېر وژړل او ویی ویل مصعب به له اسلام راوړلو مخکی د وریښمو جامی اغوستی اوس چی مسلمان شو نو جامو ته یی د څرمنی پیوند ایښی .

ذهنی ازموینه

درنو لوستونکو !

داځلی دتیری ګنی د پوښتنو ځوابونه زمونږ بوه همیشنی لوستونکی عبداللهورور په لاندی توګه رالیږلی دی :

۱ – حجة الوداع دهجرت په لسم کال ترسره شو . ۲ – لومړی کس چی په مدینه منوره کی یی امامت وکړ مصعب بن عمیر (رض) وو . ۳ – هغه بی بی چی له ام المؤمنین خدیجة الکبری نه وروسته مسلمانه شوه ام الفضل دحضرت عباس (رض) ښځه وه . ٤ – دفاتحی دسورت توری «۱۱۳» دی . ٥ – دعقیدة الطحاوی مؤلف احمد بن محمد بن سلامة الازدی الطحاوی دی.

او دا هم ددی ګنی پوښتنی :

۱ – دقرآن کریم دڅلورمی ربعی آخرنی سورت کوم دی ؟

۲ – دعبدالله بن عباس (رض) کنیه نوم څه دی ؟

۳ – دحضرت ابو ذر غفاری (رض) اصلی نوم څه دی ؟

٤ – اية الکرسی په کوم سورت کی راغلی ؟

٥ – یثرب دکوم ځای نوم دی ؟

ستاسی دځوابونو په هیله

په کندهار کې د تیلو ...

اوس زمونږ د نفتو له ذخیرو چی په کابل، هرات، تورغندی، هلمند، آقینه بندر او بلخ کی دی ګټه اخستل کیږی باید ووایم فعلاً د نفتو د یوی لویی ذخیری د جوړولو کار په کندهار کی تر سره کیږی چی ډیر ژر به د ګټی اخستلو لپاره تیاره شی نوموړی د نفتو د وارداتو او تجارتی کارونو په هکله وویل که څه هم په نړیواله سطحه د تیلو بیه ډیره لوړه ده ، الحمد لله د هغی بودیجی په واسطه چی د اسلامی امارت د لوړ رتبه چارواکو لخوا مونږ ته راکړی شوی ده او په هغی سره مونږ د باندی څخه تیل وارده وو له یوی خوا نوموړی بودیجه څو ځله لوړه شوی او له بلی خوایی په ټول هیواد کی د تیلو بیه ښکته کړی ده نوموړی زیاته کړه همدا اوس مونږ د کابل ښار د د همزنګ په برخه کی د تیلو یو پمپ فعال کړی تر څو تیل د انحصاراتو د لاربښوونی مطابق په معلومه او ښکته بیه وپلوری چی دغه شان د تیلو پمپونه په هرات او کندهار کی هم فعالیت لری همدارنګه محترم ملا عبدالغنی د یوی پوښتنی په ځواب کی چی تاسی اوس د کومو هیوادونو سره د تیلو تجارت لری نوموړی وویل : مونږ فعلاً د ایران د اسلامی جمهوریت او ترکمنستان له هیوادونو سره د تیلو د واردولو تړون لرو .

په پای کی نوموړی د خپلو راتلونکو پلانونو په هکله وویل : په راتلونکی کال کی مونږ تصمیم لرو چی نفتی مواد هیواد ته له ازبکستان او نورو هیوادونو څخه را انتقال کړو همدارنګه مونږ په پلان کی لرو د هیواد په هرګوټ کی د تیلو نوی پمپونه جوړ کړو تر څو د هیوادوالو ستونزی حل شی.

محمد داود عمرزوی

هندوستان د دهشت ...

رسیدلي چي د حقایقو په رڼا کي هندوستان د دهشت ګر ملك په توګه وګڼل شي ځکه چي هغوي په خپلو لړ کیو سخت ظلمونه کوي او د هغوي د تباهي پلانونه جوړوي د هند استخباراتي ځانګه (را) په ۱۹۸٥ کال کي د الوتکي تښتوني دوه ډرامي جوړي او نور هیواد دونه یي په هغه تورن کړل نوموړي د دوه تنو کانادایي لیکوالو د یوه لیکلي کتاب په حواله نوموړي ډرامه ثابته کره او د را ځانګه یي د هغي مسوله وبلله همدارنګه را په پاکستان کي د بمونو په چاودنو او په سریلانکا کي د تامیل یاغیانو په وسله وال کولو کي ستره ونده لري. همدارنګه د سکانو په وژلو یي په زر هاو پولیسو ته نغدي جایزي ورکړي دي.

همدارنګه په تیرو میاشتو کي یي د عیسي یانو عامه وژنه پیل کړیده د کلیفورنیا استاځي جان تي دولفل ویلي چي هندوان د لړکیو له بیخه ورکول غواړي او په دي هکله یي د ۸۳۸ تنو سکهانو یو لست وښود چي هندو حکومت وژلي دي.

امریکي د بنګله دیش تیلو او ګازو ته سترګي پټي کړي

د بنګله دیش مخالفو اسلامي تنظیمونو له بنګله دیش څخه د کلیښتن د راتلونکي میاشتي احتمالي کتني په هکله اندیښنه ځرګنده کړي او ویلي یي دي چي د نوموړي دا دوره د بنګله دیش د خلکو سره د خواخوږي مانانه لري ، بلکه د بنګله دیش د تیل او ګازو په زیرمو واکمني تر لاسه کول او په جنوبي اسیا کي د خپلي اغیزي د پراختیا په هکله یو ګام دي د حکومت مخالف بووالي چي څلور سیاسي ګوندونه پکي راټول شوي، د امریکایي مشر په دغه کتنه نیوکه کړي او هغه یي د حکومت د بهرني تګ لاري غوڅه ناکامي بللي ده .

روسي میندي خپل زامن ژغوري

روسي میرمنو دخپلو پوځي زامنو د خلاصون لپاره نوي نوي چلونه زده کړي او هره یوه په یو ډول غواړي چي په چیچنیا کي د خپل پوځي زوي دروغ رمټ راتلو هیله یي ترسره شي او په ځانګړي ډول کله چي زیاترو یي د خپل زړه د ټوټي د تریخ مرګي ننداري وکړي په دي لړ کي یوه میرمن (جالیا) وایي چي د خپل بوازیني اتلس کلن زوي (روسلان) چي په پوځ کي عسکر دي در اخلاصولو لپاره به هرګران او خوږ شي ځار کړي ، خوښکاره ده چي اوس د راخلاصولو رشوت له ددوو تر دریو زرو ډالرو پوري رسیږي ، په داسي حال کي چي د نوموړي د خاوند میاشتني ګټه یي ایله ۲٥ ډالره ده ، لودمیلا یوه بله میرمن چي په دي اره ډیره پوهه لري جالیا ته ښوونه کوي چي باید له خپل خاوند څخه طلاق واخلي او په دي دول خپل زوي له مرګه وژغوري، هغه وایي د روسیي قانون ځرګندوي چي هر بوازیني زلمي چي د کورني مشري یي په غاړه وي، له عسکري بخښل کیداي شي میرمن لودمیلا چي د «پوځیانو د میندو ټولنه» کي کار کوي، د هغو میندو لپاره نوي نوي چلونه او اغیز ناك پروګرامونه جوړوي، کومي چي خپل زامن د روسي پوځ د هغه نا ځرګند برخلیك نه ژغورل غواړي، چي د چیچن په جګړه بوخت دي یوه بله مور د خپل زوي دا خبره کلك دلیل نیسي چي وایي که له خپل هیواد څخه دفاعی جګړه واي ما به ښه برخه پکي اخیستي وه خو په چیچنیا کي نوروڅه لپاره جګړه وکړم؟

زما نوم «سلیم خان»

زما نوم زیلم خان اندرابی خپور کړی هغه زیاتوی چی له خپل نامه سره د روسی کلمو (اندریابوف) له یو ځای کیدو څخه سخته کړکه لری او دایی هم ویلی چی دی پر دی سخت خوابدی کیږی چی د زیلم خان اندرابی پر ځای یی څوک د سلیم خان اندریابوف په نامه یاد کړی .

د عدلیي وزارت ...

وی د بیا ترمیم چاری یی د اسلامی امارت د رغنده هڅو په لړ کی څه موده مخکی پیل شوی د نوموړی موضوع په هکله زمونږ خبریال د عدلیی وزارت له مالی او اداری رئیس محترم الحاج فیض احمد ناصری څخه لنډ معلومات غوښتی چی محترم ناصری دا رنګه توضیحات ورکړیدی :

الحمد لله د عدلیی وزارت د لوړ مقام په هدایت او د اسلامی امارت د عالی مقاماتو په خاصه پاملرنه د عدلیی وزارت د ودانی د ترمیم چاری د هغه تړون په اساس چی د عدلیی وزارت او د افغانی ساختمانی دستګاه تر منځ لاسلیک شوی وه د روان کال په لومړیو ورځو کی شروع او : نوموړی ودانی څلورم ،دریم او دویم پوړ په مکمله توګه ترمیم او په اول پوړ کی یی اوس هم کار جریان لری چی انشاء الله په لنډ وخت کی به تکمیل شی.

پورتنی دری پوړه اوس د ماموریتو د کار اخیستلو جوګه دی او هیڅ نوع مشکل د بریښنا او اوبو رسولو له امله نشته .

د عدلیی وزارت د بیا رغونی له پلوه تر اوسه یو ملیارد یو سلو شل ملیونه افغانی مصرف شویدی او په راتلونکی کال کی به انشاء الله د ودانی پاتی برخی هم په مکمله توګه ترمیم شی.

همدا راز په پلان کی لرو چی په ولایاتو کی هم د عدلیی وزارت د مربوطو نماینده ګیو ودانی بیا ودانی او د کار اخیستلو لپاره اماده کړو .

علماء بمثابه چراغهای ...

سپس محترم مولوي عبدالکبیر معاون رئیس الوزراء ایشان را در روشني شریعت اسلامي متوجه مکلفیت هاي بیشتر شان نموده گفتند: علماءبمثابه چراغ هاي روشن دین مقدس اسلام بوده و امارت اسلامي نیز به اساس فتاوي آنها بمیان آمده و تمام مسایل مربوط را به مشورت علماء به پیش برده و میبرند بناءً بر تمام علما است تا اهداف عالي امارت اسلامي را به مردم بیشتر و بهتر تشریح نموده و آنانرا در روشني احکام قرآني و شریعت اسلامي در برابر دسایس دشمنان اسلام و نظام اسلامي بیدار نگهدارند.

کلینیک صحي ورکشاپ ...

ملي دایر گردیده بود بعداز تلاوت آیاتي از قرآن عظیم الشان محترم قاري عبدالسلام عمري معاون ریاست عمومي اسلحه و تخنیك آنوزارت در رابطه به ضرورت وایجاد کلینیك متذکره صحبت نموده و از پرسونل طبي کلینیك خواست تا در جهت عرضه خدمات صحي به مراجعین توجه جدي نمایند کلینیك متذکره از بودجه انکشافي امارت اسلامي جدیداً بطور پخته و اساسي اعمار گردیده داراي شش اطاق وسایر ملحقات ضروري بوده و روزانه بیست نفر مریض را تحت تداوي قرار خواهد داد .

د الوتکي تښتوني ...

د هغوي غوښتنو ته د خواب ویل هغوي ته جرئت ورکوي او ددغه شان پیښو د تکرار سبب کیږي.

د هند د هوايي کرښي د الوتکي د تښتوني د پیښي په اړوند باید ځرګنده کړو چي د افغانستان اسلامي امارت د هند هیواد په غوښتنه هندي الوتکي ته د کندهار په هوايي ډګر کي د راسکته کیدو اجازه ورکړه او د هند هیواد له مقاماتو سره په تفاهم کي یي د مفاهمي او خبرو زمینه برابره کړه چي دا کار په مستقیمه توګه د هند هیواد په سیاست پوري اړه پیدا کوي او د افغانستان اسلامي امارت سره له دي چي له هند سره یي سیاسي او دیپلوماتیکي اړیکي نه لرلي د خپل بشر پال سیاست له مخي یي ددغي قضیي په حل کولو کي له اړوندو اړخونو څخه په موافقه کي مهم او مثبت رول لوبولي دي.

د تروریزم او ډار اچوني په باب د افغانستان د اسلامي امارت پالیسي په بشپړه توګه روښانه او ځرګنده ده خکه له تروریستانو سره هیڅکله خبري او مفاهمه نه کوي. دغه راز د هند د هوايي کرښي د الوتکي تښتوني د پیښي خصوصیات د اریانا افغان هوايي شرکت د الوتکي تښتوني د پیښي له خصوصیاتو سره په بشپړه توګه توپیر لري خکه د اریانا افغان هوايي شرکت د الوتکي الوتنه یوه کورني الوتنه وه او سپرلي او مسافران یي افغانان دي او د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا له خوا د لګول شویو بندیزونو له امله د اریانا افغان هوايي شرکت الوتکي نشواي کولي چي له هیواد نه بهر ته الوتنه وکړي او هیڅ یوه هیواد چي دغه الوتکه د هغوي حریم ته ننوتي ده د افغانستان له اسلامي امارت سره تماس ندي نیولي.

د افغانستان اسلامي امارت ددي غوښتنه کوي چي دتښتول شوي الوتکي مسافران روغ رمټ وژغورل شي او له تروریستانو سره له نړیوالو نورمونو سره سم چلند وشي او نړیوالي ټولني دي لکه څنګه چي لازمه ده هغه ډیر غیر انساني او بشري ضد عمل په توګه وغندي او له دي زیات دي دغه ځرګند تروریستي او ډار اچوونکي عمل په اړوند چوپه خوله غوره نکړي او حل کول یي هم دنړیوالو ټولنو له دندو او مکلفیتونو څخه دي دافغانستان اسلامي امارت له نړیوالو څخه غوښتنه کوي چي دغه تروریستي او بشري ضد عمل وغندي او عاملین یي چي د افغانستان د اسلامي امارت په مخالفینو پوري اړه لري په نړیواله سطحه افشا کړي چي نړیوال د هغوی اصلي څیره وپیژني او له دي زیات د هغوي د یي بنسټو تبلیغاتو تر اغیزي لاندي رانشي. او حقایق کما حقه درك کړي او له الوتکي تښتونکو سره له نړیوالو قوانینو سره سم چال چلند وشي.

مدرسه منبع الجهاد ...

مولوي فیض الله محترم مولوي امیر محمد و محترم مولوي شیر محمد طي صحبت هاي شان مردم را در روشني اهداف و پروګرام هاي امارت اسلامي افغانستان قرار داده و همکاري شان در رابطه به اعمار و احیاء دوباره تأسیسات عام المنفعه و مراکز تعلیمي و تربیتي کشور ابراز نموده اند ، مدرسه متذکره آماده پذیرش طالب العلمان بوده و سهولت هاي لازم بخاطر اعاشه طالبان در این مدرسه فراهم گردیده است .

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

آیا د ګروزنی سقوط دمقاومت دختمیدلو په معنا دی ؟!

.برغلګرو روسانو لخوا دګروزنی له تسخیر نه وروسته په سیمه کی دچور تالان وحشت او زیات بربریت خبر ورکړل شوی.

دعینی شاهدانو له خولی ویل کیږی چی روسی عسکر په ګروژنی کی دپاتو بیوزلو بوډاګانو، ښځو او ماشومانو په عامه وژنه لاس پوری کړی . روسانو ته دګروزنی لاندی کول په ډیره ګرانه بیه تمام شول ، هغوی دګروزنی دنیونی په لاره کی په پوځی ، سیاسی او اقتصادی لحاظ له زیاتو ستونزو سره مخامخ شولو .

روسانو د ګروزنی ښار دلاندی کولو لپاره له هیڅ راز وحشت څخه سپما ونکړ کمیاوی ممنوعه وسلی ئی استعمال کړی خر واریز بمونو ئی وریاندی وورول خو بیاهم ونه توانیدلو چی په خپل وخت دګروزنی ښار تر خپل تسلط لاندی راولی.

که څه هم دګروزنی ښار له استراتیژیکی پلوه دومره اهمیت نه درلود او په دی اړه چیچنیانی مجاهدینو هم څو ځلی ویلی و چی دګروزنی له لاسه وتل او بیا لاس ته راوړل هیڅکله دروسانو دبریالیتوب په معنا نشی کیدای.

وروسته له دی چی د ګروزنی ښار ګوټی دروسانو تر واک لاند ی راغی هغوی په ګاونډیو اسیانی جمهوریتونو کی چیچنیانی مهاجرین په زور سره بیرته د چیچنیا ورتګ ته اړیستل دعینی شاهدانو دوینا له مخی روسان بواځی هغو سپین ږیروته چی عمرئی تر ۶۰ کالو لوړ وی او هغو ماشومانو ته چی عمرونه ئی تر ۱۰ کالو کم وی له چیچنیا نه دبهر پاتی کیدو اجازه ورکوی .

ځوانان او د پاخه عمر کسان په زور مجبوروی چی چیچنیا ته ورشی تر څو هالته قتل عام او روسان ئی دتل لپاره له غمه خلاص شی که څه هم دقفقاز له سیمی څخه دمسلمانو دورکوالی لپاره دروسی دوخت چار واکی ستالین هم له عین تاکتیک نه کار اخستی وه خوهغه هم له ناکامی سره مخامخ شو.

وحشی روسانو نه یواځی دجنګیالیو مسلمانانو په مقابل کی له وحشت نه کار اخستی بلکی دهغوی له مهاجرینو سره ئی هم له هیڅ راز بربریت څخه سپما نده کړی .

دا چی اوس روسان په دی وتوانیدل چی دګروزنی دښار کنډوالی ترخپل تسلط لاندی راولی ممکن دهغوی له نظره داورته یوه لویه بریا ښکاره شی.

خو که واقعیت ته وکتل شی هغوی اوس له ستونزو سره مخامخ شول ځکه دچیچنیا مجاهدین اوس له دفاعی حالت نه هجومی حالت ته بیغمه شول هغوی اوس کولی شی په ډیری اسانی سره په هرځای کی چی وغواړی روسان ترخپلو غلچکی بریدونو لاندی ونیسی چی داکار د روسی پوځیانو د روحیی په بایللو کی ښه موثر واقع کیدای شی روسی عسکرو خو هسی هم روحیه بایللی ځکه دهغوی مقاومت دیوی مذهبی عقیدی له مخی ندی او نه په چیچنیا کی تل په خوندی پاتی کیدلو باور لری داخبره سپی ده چی چیچنیانی مجاهدین به دروسانو ددی بیرحمانه بمباری یو په نتیجه کی شهیدان او زخمیان شوی ئی خو شهادت او زخمی توب دجهاد په قاموس کی دناکامی په معنا ندی. دلوی څښتن د رضا دتر لاسه کولو او دخدای په ځمکه کی دهغه دقانون پلی کول ډیرو شهادتونو ، قربانیو او زیارونو ته ضرورت لری مونږ پدی باوری یو چی دچیچنیا مسلمان ملت به اخیر دخپلو بی ساروقربانیو نتیجه وینی.

دښمنان به ئی په شرمیدلو سترګو له هیواد څخه وځی او په چیچنیا کی به دهغوی دخوښی خپلواکه ، آزاده اسلامی اداره رامنځ ته کیږی.

او په روسیه کی به دکمونیزم هغه عناصر چه دافغان غیرتی ولس د جهاد او مقاومت له سوک نه خوندی پاتی دی ضرور به دچیچنیا ئی مسلمان ملت د ځپیړی ګذار به په خوله خوری او دفنا او نابودی کندی ته به لویږی . ان شاء ...

وما ذلک علی ...

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: *Abdurrahim Saqeb*

Printed by: Emirat Printing Press